شهسوارسنګروال ۲۰۱۶/۱۲/۱۲

بابانانک او د هند پښتانه

د لودیانو د واکمنۍ نه د مخه او وروسته په ډېرو سیمو کې پښتانه او هندوان یو ځای اوسېدل. ښایي کلیوالي او سیمه ییزې نښتې، د دوی تر مینځ لکه څنګه چې هندوانو له هندوانو سره ،او مسلمانانو به له مسلمانانو سره کولې. دا رنګه د هندوانو او مسلمانانو تر مینځ به هم کله ناکله نښتې شوې وې. ولې تل دغه جګړو یوازې مذهبي رنګ نه درلود. کله کله د ټولنیزو اړیکو له مخې هم تاریخ د دې شاهد دی چې د مسلمانانو او هندوانو ترمینځ جنګونه شوي دي.
نانګ په دغسې یوه ټولنه کې چې هندوانو او مسلمانانو یو ځای ژوند کاوو، د اپرېل ۱۵ په ۱۴۶۹ز کال د راوي د سین پر غاړه وزېږېد.
پلار یې «سېوارام» نومېده یو کلیوال هټۍ وال وه ،چې د هندوانو او مسلمانانو د باور وړ کس ګڼل کېده.
نوموړی د «۷» اوه کالو په شاوخوا کې وه، چې ښوونځي کې شامل شو. دی په همدغه عمر کې دومره یو ځیرک ماشوم وه ،چې ښوونکی ورته ګوته په غاښ وه. یوه ورځ یې له ښوونکي نه د الف د توري په هکله داسې پوښتنې وکړې ،چې د څښتن تعالی د وحدانیت یو څرګند ثبوت پکې تر سترګو کېده.
د همدې کلي یو ملا چې سید حسین نومېده ،ده په پټه د اسلام د ښېګڼو په اړه خبرې کولې او دې خبر و پرې دومره اغېزه کړې وه ،چې د هندوانو د یوه سپېڅلي دود تار تړلو نه یې سر وغړاوه.
نانک به دېر ځله د کلي یوه نږدې ځنګله ته روان وه ،او ډېر وخت به یې هلته تېروه.
دی چې «۱۵» پنځلسو کالو شو، نو پلار ورته د سوداګرۍ لپاره یو څه پیسې ورکړې ،چې مالګه پرې واخلي او بیا یې وپلوري.
ده چې ولیدل یو شمېر بېوزله کسان خیرات غواړي، نو نانک پرې بیا خپلې ټولې روپۍ ووېشلې، او خالي لاس کور ته راستون شو، پلار یې چې خبر شو، ویې غوښتل چې نانک وډبوي .بیا د کلي مشر چې د نانک له اروایي حالت سره بلد وه ،نو پیسې یې له جیب را ووستې او د هغه پلار ته یې ورکړې.
د نانک پلار چې د کلي مشر د «رام بولار» دغه خواخوږي ولیده، ده ته هم پوښتنه پیدا شوه چې ولې زما زوی په ټولو کلیوالو دومره ګران دی؟
پلار یې پرېکړه وکړه چې نانک سلطان پور ته ولېږي .هلته د ده یوه لور د هغه ځای اوسېدونکي «جې رام» ته واده کړې وه. ده د لودي دولت خان سره هلته کار کاوو. نو ځکه سیوا رام هلته نانک ته یوه هټۍ جوړه کړه.
لا ډېره موده نه وه تېره چې دوکان له هر څه تش شو. دا ځله چې نوموړي به کوم بېوزله څوک ولید نو هر څه به یې ورته وړیا ورکول، د ده اوښې جې رام خپله ټوله کیسه خپل مشر لودي دولت خان ته وکړه. هغه هم د مرستون مشر وټاکه. ده په ډېرې امانت داری د مرستو وېش پیل کړ او هغه چا سره یې مرستې کولې چې بې کسه او بې وسه به وه.
د ده له لاسه ډېرو کسانو، لودي دولت خان ته شکایت وکړ. ولې د پلټنو په ترڅ کې څرګنده شوه چې نانک د انصاف څښتن او پوره د باور وړ کس دی ،چې نور هم لودي واکمن ته د باور وړ وګرځېد.
موږ د مخه د سلطانپور یادونه وکړه، او د سکانو دودیزه مېله چې اوس هم د ننګرهار په سلطانپور کې ،په کال کې یو وار جوړېږي نو ځکه خو د سلطانپور نوم د پام وړ ګڼل کېږي.
د ننګرهار په سکانو کې داسې یوه انګېرنه موجوده وه ،چې بابا نانک کله ورک شو ،نو د سلطانپور له یوې چینې نه تر بل سلطانپوره پورې ورسېد. دلته موږ دوه سلطانپوره پېژنو، چې یو همدغه د ننګرهار سلطانپور دی ،چې د مخه یې یادونه وشوه او بل سلطان پور د هندوستان دی چېرته چې نانک هلته د مرستون مشره وه.
د دغه سلطانپور په اړه ویل کېږي چې د کوشانیانو د واکمنۍ په مهال کې دغه سیمه د «سرومانپور» په نوم یادېده، د بودایي لمانځنو مرکز و.
د غزنوي محمود لخوا دا ښار وېجاړ شو، ولې د هغه مهال یوه جنرال چې لودي سلطان خان نومېده دا ښاریي بیا ورغاوه چې ځانګړی ارزښت یې درلود.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

داسې هم ویل کېږي چې د دې ښار بنسټ یوسف خان اېښی دی ،چې د لودي سلطانپور په نوم یې ونوموه خو په کوم وخت کې چې لودي دولت خان د سلطان پور واکمن وه ،نانک ډېره موده دلته استوګن وه .نو ځکه خو د سکانو روایت اوس هر سک ته سپېڅلی دی. نانک له سلطانپور نه وروسته له خپلو دوه تنو ملګرو سره ،
چې د یوه نوم یې مردان ربابي چې مسلمان وه. خو کله به چې نانک کوم نوی شعر ولیکه نو بیا به مردان ورسره رباب واهه.
دویم ملګری یې هندو وه چې «رامداس» نومېده درې واړه د اوږده سفر ملګري وه. لومړی یې د پنجاب ډېرې سیمې ولیدې بیا کابل ته په لاره د ننګرهار په سلطانیو کې واړول.
بیا له همدې ځایه کابل ته ورسېد چې له هغه ځایه ایران او بیا ترکیې او په پای کې مکې معظمې ته ورسېدل.
یوه ورځ چې پښې یې د کعبې لوري ته غځولې وې، قاضي رکن الدین پرې غوسه شو. چې ګنې تا د سپکاوي لپاره داسې کړي دي نو نانک په ځواب کې ورته وویل که تاسو کولی شی زما پښې هغه لوري ته کړی چې هلته خدای (ج) نه وي؟
بېرته په لاره کې مردان د افغانستان په خلم کې مړ شو ولې د هغه مړی یې وسوځوه او بېرته پنجاب ته راغی دویم ځل نانک له یوه بل ملګري ،چې د مردان زوی کېده سجاد سره کندهار ته لاړ. دا هغه وخت دی چې بابا نانک ډېر پلویان پیدا کړي وه او د ډېر شهرت څښتن هم شوی وه.
لودي ابراهیم چې په ۱۵۱۷ز کال (۹۲۳ هـ.ق) کې پاچا شو د بابا نانک نوم د هر چا د ژبې په سر وه. نو بیا یې دی دربار ته راوغوښت ،خبرې یې ښې پرې ونه لګېدې، نو ځکه یې زندان ته ټېل وهه.
لودي ابراهیم نه یوازې د نانک غوندې یو شمېر نور فقیران رټلي وه ،بلکې د پلار او نیکه ډېر سرداران یې هم یا ووژل او یا خو یې بندیان کړل .ان دا چې د ده نږدې تربور، دولت خان د پنجاب حکمران هم د ده په ضد بابر ته بلنه ورکړه ،چې په ابراهیم لودي برید وکړي.
د بابر د واکمنۍ په مهال نانک مشهور په ګورو نانک (بابا نانک) دومره پلویان او پیروان پیدا کړ چې د راوي د سین په غاړه د ده په ډېره کې هره ورځ ګڼ شمېر مریدان د ده په لنګر کې حاضر وه.
دی نه یوازې په سکانو ګران وه بلکې د مسلمانانو لپاره هم د درناوي وړ وه.
کله چې دی د سپتامبر په ۲۲ د ۱۵۳۸ز کال د ۷۱ کالو په عمر مړ شو، نو بیا داسې یو روایت شته چې مسلمانانو غوښتل چې دی ښخ کړي او سکانو بیا ټینګار کاوه ،چې دی وسوځوي، ځنې د ده د مرګ نېټه(۱۵۳۹) ښیي .هغه مهال چې څادر د ده له مخه پورته شو ،که ګوري دی نه وه په کیسه کې دا هم را غلي دي چې مسلمانانو د هغه څادرنیمه برخه ښخه او سکانو د هغه څادر نیمه برخه وسوځوله.
له ده نه وروسته د ده پیرانو د ده تعلیمات د سکانو په مینځ کې خپرول او یو زوی یې «سري چند» نومېده ،د ده په څېر یو فقیر انسان وه. ولې بل زوی یې چې «لکمي چند» وه یو شتمن انسان وه چې نبیره یې اوس هم په پنجاب کې اوسېږي.،
دغه یادونه هم د پام وړ برېښي چې وویل شي:
«ګرو نانک» یانې څه؟ نانک خو نوم وه چې په ده اېښودل شوی وه «ګرو» د سنسکرت ژبې اصطلاح ده چې د ښوونکي (لارښود) په مانا کارول کېږي او پخپله د «سیک» کلمه بیا د ډېرو په اند د زده کړو په مانا راغلې ده.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ